# جنوبي وزيرستان: د خوارجو خلاف د امنيتي ځواکونو لويه برياد ټي ټي پي 8 خوارج جهنم ته واستول شول

د جنوبي وزيرستان په شكتو سيمه كې د پټو اطلاعاتو په اساس د امنيتي ځواكونو د چاڼيزو او پراخو عملياتو په نتيجه كې د حافظ ګل بهادر ډلې اته تنه خوارجان وژل شوي او ګڼ نور ټپيان شوي دي. په زياته اندازه عصري او سپكې وسلې، مهمات، د بم جوړولو اتومات وسايل او چاودېدونكي توكي ترلاسه شوي دي.

**د تفصيلاتو له مخې، د ترهګرو د نقل و حركت په وخت په نشاندهي كولو سره امنيتي ځواكونو په ممكنه لاره د كمين په ايښودلو سره ترهګر په برياليتوب سره په نښه كړل، چې له كبله يې 8 خوارج په موقع ووژل شول او ګڼ شمېر نور ټپيان شول.**






**د دومره لوى شمير ترهګرو وژل كيدل يقينا د خوارج لپاره لوى ګوزار دى او امنيتي ځواكونو خپل مسلكي مهارتونه وښودل او د ترهګرو ناپاكه اراده يې شنډ كړه.**

په جنوبي وزيرستان كې د امنيتي ځواكونو د كاميابو او جارحانه عملياتو له امله خوارجيان له سختو ځاني او مالي زيانونو سره مخ دي چې دا په سيمه كې د سولې د ټينګښت لپاره يو مهم پرمختګ دى. انشاالله چې د سولې د دغو دښمنانو د له منځه وړلو لړۍ به همداسې روانه وي.